## د څېړنې ګډونوالو لپاره معلومات

نشنل سنټر فار سوشل ریسرچ (NatCen) د خلکو **برتانیا ته د راتګ او د کډوالۍ سیسټم په اړه د هغوی په تجربو** د پوهیدو لپاره څېړنې ترسره کوي.

موږ له هغو خلکو سره خبرې اترې کوو:

- تاسو **په جنورۍ 2023 کې او یا وروسته له هغه** په برتانیا کې د پناه غوښتنه کړې ده
- تاسو **په جنورۍ 2023 کې او یا وروسته له هغه د قاچاق د احتمالي قربانیانو د ملي راجع کولو میکانیزم** ته راجع شوي یاست

دا څېړنه د **هوم آفس یا کورنیو چارو وزارت لخوا** تمویل کېږي، مګر NatCen یوه **خپلواکه** اداره ده. یعنې موږ **د هوم آفس** یا حکومت **برخه نه یو**، او **پدې اړه چې خلک په انګلستان کې پاتې کېدی شي یا نه، موږ پرېکړه نه کوو.**

## زه باید څه وکړم؟

پدې څېړنه کې له برخه اخیستلو سره به یوه څېړنیزه مرکه هم شامله وي.

- دا مرکه به **د NatCen له یوه څېړونکي سره وي** او **له 60 تر 90 دقیقو به دوام وکړي**.
- که تاسو غواړئ، تاسو کولی شئ دا مرکه د **انګلیسي ژبې پر ځای په یوه بله ژبه ترسره کړئ**. موږ به یو ژباړونکی وکاروو.
- که تاسو غواړئ تاسو کولی شئ یو څوک له ځان سره ولرئ ترڅو د تاسو ملاتړ وکړي.
- تاسو کولی شئ دا مرکه **د ټلیفون، ویډیو کال له لارې یا په شخصي حضوري بڼه** په داسې وخت کې ترسره کړئ چې تاسو ته مناسب وي.
- **که تاسو موافق یاست، موږ به دا مرکه ثبت کړو** ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ستاسو له وینااوو څخه هیڅ څه هېر نشي.
- ستاسو د وخت لپاره د مننې په توګه به تاسو د **£40 یو پیرود واوچر** ترلاسه کړئ.
- موږ کېدی شي له تاسو څخه وغواړو چې په نورو څېړنو کې برخه واخلئ ترڅو ستاسو د تجربو په اړه لا ډېر معلومات ترلاسه کړو.

## له ما څخه به د څه په اړه پوښتنه وکړئ؟

د مرکې څخه مخکې، موږ به د تاسو، کله راورسېدئ، او ستاسو د کډوالۍ غوښتنلیک په اړه ځینې پوښتنې وکړو ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې زموږ پوښتنې د تاسو لپاره مناسبې دي.

د مرکې په جریان کې، موږ به له تاسو څخه پدې اړه پوښتنې وکړو:

- انګلستان ته ستاسو سفر
- ستاسو د رسېدو راهیسې څه پېښ شوي، د کډوالۍ سیسټم په اړه ستاسو د تجربې په شمول

موږ به له تاسو څخه پدې اړه چې ستاسو په اصلي هیواد کې تاسو ته څه پیښ شوي پوښتنې ونکړو.

دا څېړنیزه مرکه د کډوالۍ مرکه نه ده - دا ستاسو د قضیې یا کېس برخه نه ده. **موږ پدې اړه چې خلک په انګلستان کې پاتې کېدی شي یا نه پرېکړه نکوو او نه هم د دې مرکې څخه ترلاسه شوي معلومات له هغو خلکو سره شریک کوو چې دا پرېکړې کوي.**

که تاسو غواړئ تاسو کولی شئ غوره کړئ چې پوښتنو ته ځواب ورنکړئ.

## ایا زه باید برخه واخلم؟

که چېرې تاسو نه غواړئ، تاسو **اړ نه یاست چې پدې څېړنه کې برخه واخلئ.** پدې څېړنه کې برخه اخیستل یا نه اخیستل به ستاسو د کډوالۍ په کېس یا اوس مهال یا په راتلونکي کې دلته د تاسو د پاتې کېدو پر حق باندې هیڅ ډول اغېزه ونلري.

که چېرې غواړئ تاسو کولای شئ **غوره کړئ چې پوښتنو ته ځواب ورنکړئ** او تاسو کولی شئ له مرکې څخه تر 6 اونیو پورې پرته له دې چې دلیل وړاندې کړئ **د خپلو معلوماتو د حذف کېدو غوښتنه وکړئ.**

## هغو معلوماتو ته چې زه یې تاسو ته درکوم څه پېښېږي؟

د معلوماتو ساتنې قانون سره سم، ټول هغه معلومات چې تاسو یې وړاندې کوئ جداً محرم او خوندي ساتل کېږي، او د پروژې په پای کې حذف کېږي. موږ به هوم آفس لپاره د هغو مهمو مسئلو په اړه یو راپور ولیکو چې د تاسو او نورو لخوا په ورته شرایطو کې پرې خبرې شوې. موږ به د هوم آفس په ګډون **هیچا ته نه وایو** چې چا پدې څېړنه کې برخه اخیستې یا هر یو ګډونوال څه ویلي دي. موږ **نومونه، د قضیې شمېرې یا نور ځانګړي توضیحات** په راپور کې نه شامله وو.

زموږ لخوا ستاسو د معلوماتو د کارولو او ساتلو د څرنګوالي په اړه نور معلومات دلته چمتو شوي [privacy notice link]

## زه چېرته کولی شم د خپل کېس په اړه ملاتړ ترلاسه کړم؟

لاندې موسسې کولی شي د کډوالۍ سیستم په اړه ملاتړ یا معلومات چمتو کړي.

### مایګرنټ هلپ (Migrant Help)

**ویب پاڼه:** www.migranthelpuk.org
**د مرستې ټلیفوني کرښه** (په ورځ کې 24 ساعته وړیا ټلیفون شمېره): 08088010503
**برېښنالیک پته:** له Migrant Help سره د webchat له لارې یا د د پوښتنو آنلاین فورمې له لارې اړیکه ونیسئ.

### ریفیوجي کونسل (Refugee Council)

**ویب پاڼه:** www.refugeecouncil.org.uk
**د مرستې ټلیفوني کرښه** (د سهار 9:30 څخه تر 12:30 بجو پورې د دوشنبې څخه تر پنجشنبې پورې): 08081967272
**برېښنالیک پته:** refugeeadvice@refugeecouncil.org.uk

### سامریتانز (Samaritans)

**ویب پاڼه:** www.samaritans.org
**د مرستې ټلیفوني کرښه** (په ورځ کې 24 ساعته وړیا ټلیفون شمېره): 116-123
**برېښنالیک پته:** jo@samaritans.org

## موږ سره اړیکه ونیسئ

که **کومه پوښتنه لرئ یا غواړئ د مرکې وخت بدل کړئ**، مهرباني وکړئ موږ سره اړیکه ونیسئ.

- migrantresearch@natcen.ac.uk
- 0808 168 2791
- www.natcen.ac.uk/migrantexperiences

په دې څېړنه کې فقط محدود ځايونه شته. مانا دا چې **موږ ممکن له هر هغه چا سره مرکه ونه کړو چې موږ ته وايي چې دوی ګډون پکې کول غواړي.**